بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د افغانستان اسلامی امارت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**بغلان پوهنتون**

**د څېړنو او علمي مجلې معاونيت**

**د علمي مجلې آمریت**

---

## د بغلان پوهنتون د علمي او څېړنیزې مجلې نشراتي پالیسي

**سریزه**

لکه څرنګه چې ښکاره ده، د علم د تولید، د څېړنیزو فعالیتونو رامنځ ته کول او د کلتور څخه ملاتړ، د لوړو زده کړو د وزارت د مهمو اهدافو څخه بلل کېږي او پالیسي يې هم همدا موخې پخپله لمن کې رانغاړي، په همدې خاطر، په علمي او اکادمیکو مرکزونو کې ټول څېړنیز فعالیتونه، د علمي کادرونو له مهمو دندو څخه دي. د همدې موخو ته د رسېدو لپاره په بغلان پوهنتون کې، علمي مجله چې د(بغلان پوهنتون علمي او څېړنیزه مجله) په نوم يادېږي، رامنځ ته شوه.

د پوهنتون لپاره د علمي مجلې ايجاد ځکه اړین دی، چې په وسیله يې استادان کولای شي، خپلې پوهې ته پراختیا ورکړي، خپلې مقالې پکې خپرې کړي، خپل ترفیعات پرې واخلي او په ټوله کې د علم د پرمختګ سبب وګرځي.همداراز د مجلې او د پوهنتون اړیکه نه شلېدونکې ده؛ دا ځکه پوهنتون یو علمي او اکاډمیک ځای دی؛ نو د یو علمي ځای لپاره د علمي مجلې جوړول اړين دي. په علمي مراکزو کې د علمي ژورنالونو نشرات ډېر اړين دي، علمي ژورنالونه علمي موضوعات خپروي، نوې مسلې رامنځ ته کوي، علم او پوهه پرمخ ځي او بلاخره د ټولنې د ضروریاتو د حل یوه لاره هم کېدای شي.

د دې پالیسي په وسیله موږ کولای شو، چې د د علمي مجلې د منځ ته راتګ په دلایلو وپوهېږو او دا هم راته روښانه شي، چې د يادې مجلې د ايجاد موخې، ارزښت، اهمیت څه و؟په همدې اساس دا پالیسي رامنځ ته شوه او که لږ نوره يې روښانه کړو نو باید ووايم، چې د همدې پالیسي په وسیله موږ د مجلې لید لوری پیدا کړو، موخې يې راته څرګندې شي.په دې لحاظ د بغلان پوهنتون په علمي مجله کې د پوهنتون د استادانو تر څنګ د نورو پوهنتونونو د استادانو مقالې هم د پوهنتون او د مجلې د پالیسی په نظر کې نیولو سره خپروي، چې په دې توګه د بغلان پوهنتون اود نورو پوهنتونونو د استادانو ترمنځ د ښو او مناسبو د اړیکو جوګه هم شوې ده.په دې لحاظ دغه نشراتي پالیسي، د استادانو د علمي او څېړنیزو فعالیتونو د ودې او بهبود لپاره جوړه شوې، تر څو استادان خپل علمي او څېړنیز فعالیتونه په ښه او مناسبه توګه سرته ورسوي.

بسم الله الرحمن الرحيم

**د افغانستان اسلامی امارت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**بغلان پوهنتون**

**د څېړنو او علمي مجلې معاونیت**

**د علمي مجلې آمریت**

---

**اوسنی وضعیت**

کله چې د بغلان په پوهنتون کې علمي مجله رامنځ ته شوه، د هغې څخه وړاندې د پوهنتون په چوکاټ کې چې کوم علمي او څېړنیز فعالیتونه سرته رسېدل په هېڅ شمار و. دا ځکه چې زموږ د پوهنتون د استادانو علمي فعالیتونه(مقالې)، ډېرې نه خپرېدې او د امکاناتو د نه شتون له امله استادانو ترفیعات هم له ځنډ سره مخ و. په دې لحاظ استادانو خپلې علمي مقالې نشوای چاپولای . بله مهمه خبره دا وه، چې په هغه کالونو کې زموږ د پوهنتون د پوهنځیو شمېر هم کم و، استادان یکې کم وو، د لوړې رتبې استادان مو نه لرل؛ نو دا احساس پیدا شو، چې باید یوه علمي مجله ولرو.اوس الحمدالله زموږ د پوهنتون د علمي کادرونو شمېر ۱۶۹تنو ته رسېږي، چې ډېری یې ماستران او ډاکټران دي او ډېر لږ شمېر یې لیسانس دي. د یادونې وړ ده، چې قرار دادي استادان هم کم لرو او د پوهنځیو تعداد ټول ۷ دي، چې ټولې څانگې ۳۰ ته رسېږي.

د پوهنتون په چوکاټ کې څېړنیز فعالیتونه ډېر ښه روان دي، ښې پایلې یې لرلې دي او استادان ټول په علمي کارونه مصروف دي، چې د پخوا په پرتله ډېر ښه شوي . د پوهنتون علمي وضعیت ورسره ښه شوی، د استادانو ترفیعات ورسره په وخت اجرا کېږي، چې دا برخه هم د پوهنتون په علمي وضعیت مثبت تاثیر لري.د پوهنتون استادان او د نورو پوهنتونونو استادان، د علمي او اکادمیکو معیارونو په نظر کې نیولو سره خپلې علمي مقالې په یاده مجله کې خپروي.د مجلې کارکوونکي هم د خپلو علمي تجربو څخه په گټې اخیستنې د مجلې د چاپ لپاره هلې ځلې کوي او د نورو علمي مرکزونو د کارکوونکو د تجربو څخه هم گټه اخلي، تر څو دا علمي مجله په لوړ کیفیت خپره شي.تر څو د مجلې خپرېدل یوازې د ترفیع تر اخیستلو پورې محدود نه شي او د مجله د اوسني وضعیت څخه ووځي او لا د ښوالي لوري ته حرکت وکړي.

دعلمي او اکاډمیکو مسایلو له اړخه الحمد الله اوس بغلان پوهنتون په ښه وضعیت کې دی؛ ځکه چې د اعتبار اخیستنې دوهمه مرحله مو په بریا سره پای ته ورسوله او یو کال وروسته به دریيمه مرحله هم پای ته ورسېږي. بله مهمه مسله داده، چې د بغلان په پوهنتون کې اوس تر لسو ډېر استادان، پوهنوال، پوهندوی، ډاکټران لري او پاتې نور استادان ټول ماستران دي. په دې لحاظ موږ د مجلې د خپرېدو ټول شرایط پوره کړي او لا پرمخ روان یو.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د افغانستان اسلامی امارت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**بغلان پوهنتون**

**د څېړنو او علمي مجلې معاونیت**

**د علمي مجلې آمریت**

---

**نظر او لید لوری**

زموږ لید لوری د علمي مجلې د موجودیت په اړه دادی، چې د هرې علمي مجلې منځ ته راتلل د پوهې د تقویې، د کلتور د ودې او د پټو مسایلو روښانول دي.د علمي مجلې موجودیت په پوهنتون کې یا په یوه علمي نهاد کې د ملا د تیر ارزښت لري. ځکه چې د همدې علمي مجلې په وسیله استادان کولای شي، خپل علمي لیدلوری لوړ کړي، تحصیلي ارتقا سبب وګرځي، استادان د مجلې په وسیله ترفیعات کولای شي، د ظرفیت لوړونې یواځینی وسیله بلل کېږي.د پوهنتون په تحصیلي چاپیریال کې مهم رول لري، ځکه چې استادان د چېترونو، کتابونو، مقالو په ترتیب کې ترې ګټه پورته کوي ، محصلین د کورنیو دندو په ترتیب کې ترې ګټه اخلي او په دې ترتیب د پوهنتون ټول تحصیلي چاپیریال د پرمختګ سبب ګرځي.کله چې په پوهنتون کې علمي مجلې رامنځ ته شوې، نو هرومرو به علم تولیدېږي، چې کله علم تولید شو، د علم د پرمختګ سبب وګرځید، د کلتور د پرمختګ سبب هم ګرځي، ناویل شوې مسلې رابرسېره کېږي او بلاخره د یوه هیواد آبادی او سوکالۍ لپاره یوه اساسي لاره ګڼل کېږي. دا ځکه چې د علم په وسیله ټولنه پرمختګ کوي، علم د تیارو د له منځه وړلو سبب ګرځي او رڼایي رامنځ ته کوي.

**موخې**

زموږ د مجلې اهداف دوه ډوله دي:

**الف)عمومي موخې**

۱ـ د علمي مجلې د ایجاد څخه موخه داده، چې تر څو د استادانو د پوهې پایلې نشر او خپرې شي.

۲ـ د کلتور وده

۳ـ د پوهې تولید

**ب) فرعي موخې**

۱ـ د پوهې د مینوالو د سطحې لوړول

۲ـ یو او بل ته د پوهې لېږد

۳ـ د علمي کادرونو د څېړنیزو مهارتونو لوړوالی

۴ـ د خپلې رشتې مطابق د څېړنيزو فعاليتونو پراخوالی

۵ـ د علمي فعاليتونو څخه حمايت

**په څېړنه کې اخلاقي اصول**

۱ـ د اسلامي او شريعي اصولو رعايت

۲ـ د ټولو نافذه قوانينو، طرزالعملونو، لايحو رعايت

۳ـ په څېړنه کې د امانت د اصل رعايت

۴ـ د علم توليد ته په کتو د څېړنيزې موضوع ټاکنه

**د علمي مجلې د فعاليت تخصوصي ساحه**

په هر علمي او اکاډميک ارګان کې اړينه ده، چې علمي مجله، د علمي کادرونو له لوري او تر نظر لاندې رامنځ ته شي. په دې اساس بغلان پوهنتون هم علمي مجله، چې د علمي کتنپلاوي او ليکنې پلاوي**(مرور گران او هيات تحرير)** په مرسته او تر نظر لاندې په هرو درېو مياشتو کې خپرېږي. د يادې علمي مجلې ساحه په پوهنتون پورې اړونده ده، چې د بغلان پوهنتون د علمي کادرونو او يا هم د نورو پوهنتونونو علمي کادرونو علمي مقالې په کې خپرېږي. د دې مجلې د خپرېدو ساحه يواځې **په ټولنيزو او طبيعي علومو** پورې اړونده ده او د همدې برخې د استادانو علمي مقالې خپروي.

دبغلان پوهنتون د ټولنيزو او طبيعي علومو پوهنځي دادي:

۱ـ د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی د ټولو ٦ څانګو سره

۲ـ د زراعت پوهنځی د ټولو څانګو سره

۳ـ د شرعياتو پوهنځی د ټولو څانګو سره

۴ـ د ښوونې او روزنې پوهنځی د ټولو څانګو سره

۵ـ د اقتصاد پوهنځی د ټولو څانګو سره

٦ـ د ژورنالېزم پوهنځی د ټولو څانګو سره

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د افغانستان اسلامی امارت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**بغلان پوهنتون**

**د څېړنو او علمي مجلې معاونیت**

**د علمي مجلې آمریت**

---

**د مجلې د اغېز ساحه**

دا چې د بغلان پوهنتون د دېرشو څانگو په لرلو سره، په هرو درېو میاشتو کې یوه علمي مجله خپروي، په دې اساس د مجلې د اغېزمنتیا(موثریت) ساحه یې په مستقیمه او غیر مستقیمه توگه په بېلابېلو برخو کې ښکاره کېږي، چې دلته په تفصیل سره ذکر کېږي:

**الف)په پوهنتون کې د دبغلان پوهنتون د علمي مجلې د اغېزمنتیا ساحه**

د بغلان پوهنتون د علمي مجلې خپرېدل په مستقیمه توگه په لاندې برخو کې ځانگړې کوو:

**۱) د مجلې د خپرېدو مستقیم اغېز په استادانو**

دا چې هر استاد مکلف دی، چې د هرې ترفیع لپاره باید علمي مقاله، د شرایطو په نظر کې نیولو سره خپره کړي، په دې خاطر د بغلان پوهنتون ټول کادري غړي، دا چاره په ډېر ذوق سره تر سره کوي او ټول استادان لېوال دي، چې د خپل مسلک په نظر کې نولو سره او د ټولنې د اړتیاوو سره سم په ځانگړو موضوعاتو څېړنې وکړی او د خپلو څېړنو پایلې د علمی مقالو له لارې خپرې او د خلکو په خدمت کې وړاندې کړي. دا مقالې د استادانو لپاره په درسي لکچر نوټونو کې پوره مرسته کولای شي. کله چې استادان خپل درسي لکچر نوټونه، علمي رسالې، علمي مقالې لیکي او د تحقیق برخه پیاوړې کوي، اړ دي چې د یادو خپرشویو مقالو څخه د معتبرو ماخذنو په توگه گټه واخلي او خپلې ستونزې پرې کړي.

**۲) دمجلې مستقیمه اغېزمنتیا په پوهنپالو(محصلینو)**

محصلین هم اړ دي، چې کله د یو مضمون لپاره سیمینارونه ترتیب کوي، د یادو خپرشویو مقالو څخه د معتبر ماخذ په توگه گټه پورته کولای شي. محصلین کولای شي، چې د مونو گرافونو او نورو علمي سیمینارونو په ترتیب کې، د یادو مقالو څخه گټه پورته کولای شي. په دې اساس د هرې علمي مجله خپرېدل په علمي نهاد کې یوه لازمه اړتیا ده.

**ب) د پوهنتون نه دباندې په علمي مرکزونو، موسسو، خلکو او بازار، د مجلې د خپرېدو اغېز**

په پوهنتون (پوهنځي، څانګه) څخه بېرون هم د علمي مجلې د خپرېدو اغېز شته. هغه داچې عام خلک د مجلې د لوستلو څخه وروسته د ډېرو علمي موضوعاتو څخه خبرېږي او ښايي د ډېرو خلکو د ژوند په ښوالي کې اغېزمنه ثابته شي.د عامو خلکو تر څنګ نور وګړي(سوداګر) د خپلو سوداګريزو کارونو د لا ښه والي لپاره ښايي ګټه ترې واخلي او اغېزمنه ثابته شي. د دې سره سره د علمي مجلو د خپرېدو ساحه که څومره په پوهنتون کې د ننه ګټوره ده، همدومره د پوهنتون نه دباندې هم ګټوره ده. په علمي مرکزونو، دارالمعليمنيو، ښوونځيو، موسساتو او نورو.په دې اساس په هر علمي او اکاډميک ارګان کې د علمي مجلې د خپرېدو اړ تيا ډېره شته.

د يادونې وړ ده، چې د هر استاد د تخصصي رشتې سره مستقيم اغېز لري او دا اغېز يې موږ د استادانو په علمي مقالو، کتابونو، چپټرونو او نورو برخو کې وينو.دا مجله د دې سبب هم ګرځي، چې د ټولنې عيني واقعيتونو ته ځواب ووايي او ستونزې هوارې کړي.

**د مجلې د چاپ او خپرېدو لپاره علمي مقالې څه ډول تر لاسه کېږي؟**

ښايي د هر پوهنتون د علمي مقالو طی مراحل توپير ولري. د هر پوهنتون علمي مجلې ښايي يو بېل فارمټ ولري، چې په دې ترتيب هم د بغلان پوهنتون علمي مجله يو بېل فارمټ لري، چې مقالې عنوان، ليکوال، تقريظ ورکونکی، د مقالې لنډيز، په رسمي او بهرنۍ ژبه، کليدي کلمې، سريزه، د موضوع اهميت، موخې، روش، اصلي موضوع، پايله، مناقشه، پاپپايله او اخځليکونه لري.

د بغلان پوهنتون ته چې کله د نورو پوهنتونونو څخه مقالې رالېږل کېږي، د يوه رسمي اېمېل له لارې راځي. د خپلو پوهنتون استادان خپلې علمي مقالې د څانګې د ثبت څخه وروسته مکتوبي پوهنځي ته او بيا علمي معاونيت ته، چې بيا د مجلې آمريت ته سپارل کېږي.البته په فزيکي بڼه.

**د مقالو د پذیرش شرطونه**

**د علمي مقالو د مرور معیارونه:**

**الف) شکلي مرور**

- د استادانو علمي مقالې د شکلي ارزونې او مرور په خاطر ادبیاتو پوهنځي یو لوړ رتبه او د تجربې لرونکي استاد ته، چې د مرورگرانو له ډلې څخه وي سپارل کېږي. د یاد استاد له خوا په درېو ورځو کې مقاله کتل کېږي.
- مقالې باید د پوهنتون د خاص فارمټ په نظر کې نیو سره ترتیب شي.
- د مقالې د شکلیاتو د ارزونې لپاره باید یوه د ورد نسخه د مجلې آمریت ته وسپاري.
- د مقالو د شکلیاتو ارزونه د یوه لوړ رتبه استاد له لوري کېږي، چې یو فورم هم موږ ورسه یو ځای کړی او هلته د مقالې ټولې شکلي خواوې په نظر کې نیول شوې.
- د مقالې د شکلیاتو نتایج د مقالې د لیکوال سره د دریو ورځو په جریان شریکېږي.

**ب) محتوایي مرور**

دلته د علمي او ساختاري پلوه مقالې په نظر کې نیول کېږي:

- د محتوا له مخې د علمي مقالې، همغه د څانگې استاد چې د پوهنتون د علمي بورډ له مخې مرور گر ټاکل شوی لېږل کېږي. د یاد استاد له خوا د درېو ورځو نه تر شپږو ورځو کې مقاله کتل کېږي.
- علمي مقالې باید د مجلې د معین ساختار په نظر کې نیولو سره ترتیب شي.
- د مدیر مسول لخوا دې د ترتیب شوي چک لیست په نظر کې نیولو سره ترتیب شي.
- د دوو مرور گرانو له لوري دې د مقالې محتوا وارزول شي.
- د مرور گرانو نتایج دې د لیکوال سره شریک شي.

د یاد ونې وړ ده، چې موږ یو فارمت ساختاري او محتوایي هم ورسره مل کړی.

**ج) د مقالې ادبي او ویراستاري مرور**

- د استادانو علمي مقالې د ادبي ارزونې او مرور په خاطر ادبیاتو پوهنځي یو لوړ رتبه او د تجربې لرونکي استاد ته، چې د مرورگرانو له ډلې څخه وي سپارل کېږي.
- د ویراستارۍ له مخې یوه استاد ته چې په ویراستارۍ کې تجربه لري، خصوصا د ژورنالېزم پوهنځي استاد ته سپارل کېږي. د یاد استاد له خوا په درېو ورځو کې مقاله کتل کېږي.

- لیکوال باید نگارشي قواعد ټول په نظر کې ونیسي.
- د یوه متخصص فرد لخوا دې ادبي مرور پرې وشي.
- د ادبي مرور نتایج دې د مقالې د لیکوال سره شریک شي.

**د مقالو خپرېدل او چاپ**

- کله چې د هیات تحریر له لوري ټولې مقالې نهایي شوې، وروسته مقالې مسول مدیر ته د چاپ لپاره سپارل کېږي.
- د مجلې مسول مدیر یې ویراستار ته سپاري تر څو مجله ویراستاري کړي.
- وروسته د ویراستارۍ څخه د مجلې نهایي نمونه مسول مدیر ته د بیا لوستلو لپاره استول کېږي.
- که چېرې په ویراستارۍ کې کومه ستونزه وي بیا یې ویراستاري کوي.
- او که کومه ستونزه ونه لري، مسول مدیر یې چاپ ته لېږي.
- په پای کې مجله چاپېږي او وروسته یې مسول مدیر اړوندو څانگو او پوهنتونونو ته لېږي.
- مجله باید په وزیري سایز کې چاپ شي.
- ۵۰۰جلده ولري.
- مجله چاپي بڼه لري.

**د مجلې د چاپ وخت**

د بغلان پوهنتون مجله په درېو میاشتو کې یو ځل خپرېږي.

**د مجلې د نشر ژبه:**

پښتو او دري ده، خو که چېرې د عربي څانگې مقالې ولري، په عربي هم خپرېږي.خو لومړی په پښتو، دري، عربي او بیا انگلیسي ژبه خپرېږي.

**د مجلې تشکلات**

مدیر مسول

د علمي مجلې آمریت

د علمي مجلې عمومي مدیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د افغانستان اسلامی امارت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**بغلان پوهنتون**

**د څېړنو او علمي مجلې معاونیت**

**د علمي مجلې آمریت**

---

د متونو د سمون مدیر

د مجلې نشریه مدیر

مرور گران(۵٦) تنه

هیات تحریر(۱۸) تنه

خدماتي کارکن

**د مجلې د کارکوونکو دندې**

**الف) د مسوول مدیر دندې**

۱ـ د مجلې د ټولو اړوند کارونو تعقیب او پلټنه

۲ـ د مجلې د ټولو حقوقي کارونو مسوولیت

۳ـ د مجلې د نشراتي پالسیی اجرا او تطبیق

۴ـ د چاپ لپاره د ټولو علمي مقالو وروستی تایید

۵ـ د مجلې د کلنی بودیجې تنظیم او د پوهنتون ریاست ته یې وړاندیز

٦ـ پوهنتون ته د مجلې د هیات تحریر د غړو وړاندیز

۷ـ پوهنتون ریاست ته د مجلې د ټولو اړوند کارونو او فعالیتونو د راپور ورکول

**ب) د مجلې د سردبیر یا مهتمم دندې**

۱ـ د مجلې اړوند د ټولو علمي کارونو مسوولیت منل

۲ـ د هیات تحریر د غړو ریاست د کارونو مخته وړل

۳ـ د هیات تحریر د جلسو تنظیم او د هغو د مصوبو اجرا

۴ـ د مقالو لېږل، د برسی لپاره کتنپلاوي(مرور گرانو)ته

۵ـ د هیات تحریر د نظر او برسیۍڅخه وروسته د ټولو مقالو د پایلو جمع بندي

٦ـ د مجلې د ورستی نسخې تاید مدیر مسوول ته

۷ـ د مجلې د نشر، چاپ او توزیع د ټولو اموراتو څخه نظارت

۸ـ د مرور گرانو ټاکنه او وړاندیز یې مسوول مدیر ته

۹ـ د مجلې د ټولو اړوند کارونو راپور ورکول مسوول مدیر ته

---

**ج) د هيات تحرير دندې**

۱ـ د مهتمم په غوښتنه د مجلې اړوندو کارونو جلسو کې ګډون

۲ـ د مقالو د تاييد، رد او يا هم اصلاح د نظر وړاندې کول

۳ـ د مجلې د کتنپلاوي (مرورګران) د ټاکنې تصميم

۴ـ د مقالو د برسۍ او ارزونې لپاره د ټولو اسنادو تهيه او تصويب

**د مجلې د چاپ مالي منابع**

وزارت له لوري لا تراوسه زموږ پوهنتون د علمي مجلې د خپراوي لپاره مناسبه بودجه نه ده راکړل شوې، په دې خاطر د پوهنتون علمي مجلې چاپ مالي منابع استادانو د شخصي لګښتونو څخه برابرېږي. د اوس لپاره د تخصيص د کمښت له وجې د هيات تحرير، ډيزاينر، صحاف او نورو کارکوونکو حق الزحمي نه ورکول کيږي. د اصولو له مخې ياد کسان د حق الزحمې وړ بلل کيږي.زموږ هيله داده، چې د پوهنتون د علمي مجلې د چاپ او خپراوي لپاره د وزارت له لوري مناسبه بودجه راکړل شي، تر څو په راتلونکې کې د نورو ګڼو ستونزو سره مخامخ نه شو.

**د مقالو د ارزونې څخه وروسته، د مقالې منل او يا رد**

د يادې برخې د لاښې توضيح لپاره د مقالې د ارزونې فورم، چې د مقالې د طی مراحلولو لپاره پکې لازمي لارښوونې شوې دي، د نشراتي کيمسيون لخوا ترتيب شوی او د دغه پاليسی سره مل دی.د يادونې وړ ده، چې کله مقالې تر لاسه شي، د دوو اوونيو په جريان کې مقالې د بنې، محتوا، ادبياتو او شکللياتو له لحاظه، رد او يا منل کېږي.

د پورته برخې د پېژندنې لپاره لاندې جدول مناسب دی:

| | مرحله | مسول شخص | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱ | د مقالو د ټولولو لپاره اعلان | مسول مدير | د مخکنۍ ګڼې د چاپ نه وروسته د يوې نيمې مياشتې په جريان کې |
| ۲ | د مجلې د فارمټ برابر د مقالو ټولول | د نشريې مدير | // |
| ۳ | د برسۍ لپاره د مقالو ټاکل | هيات تحرير | // |
| ۴ | د مقالو شکلياتو مرور د چک لست مطابق | لوړ رتبه استاد | // |

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د افغانستان اسلامی امارت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**بغلان پوهنتون**

**د څیړنو او علمي مجلې معاونیت**

**د علمي مجلې آمریت**

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵ | د مقالو ساختاري مرور د چک لست مطابق | لوړ رتبه استاد | // |
| ٦ | د مقالو ادبي مرور د چک لست مطابق | لوړ رتبه استاد | // |
| ۷ | د شکلي ، ادبي او ساختاري ملاحظاتو شریکول | لوړ رتبه استادان | // |
| ۸ | د ملاحظاتو مطابق د شکلیاتو ، ساختار اصلاح | د مقالې لیکوال | // |
| ۹ | د ادبي او محتوایي ملاحاظو شریکول | لوړ رتبه استادان | // |
| ۱۰ | د نشر لپاره د مقالو وروستی پریکړه | هیات تحریر | // |
| ۱۱ | ادبي او فني ویراستاري د مقالو | مسول شخص | // |
| ۱۲ | دویراستاری نهایي ارزونه | مسول مدیر | // |
| ۱۴ | د مقالو چاپ ته لېږل | مسول مدیر | // |
| ۱۵ | د چاپي نسخې توزیع | مسول مدیر | // |

نوموړې پالیسي چې د پوهنتون د نشراتي کمیسیون لخوا د پوهنتون رهبری پلاوي او پوهنتون ریاست سره په مشوره ترتیب شوې، د پوهنتون د علمي شورای د / /۱۴۴۴ نیټې په ( ) پروتوکول غونده کې تائید شوه.

درنښت

**تأیید آمریت مجله علمی** **تأیید ریاست پوهنتون**